PRESS RELEASE

THE EUROPEAN UNION SPECIAL REPRESENTATIVE IN AFGHANISTAN
THE EUROPEAN UNION DELEGATION TO AFGHANISTAN

اروپايي ټولنه په خپل کليزه کې افغان اتلان وستايل

کابل- د 2015 کال د دسمبر 14

په افغانستان کې اروپايي ټولنې پلاوي د روان کال د جولای په مياشت کې په ټولنيزو شبکو کې د " افغان اتلانو" تر نامه لاندې کمپاين په لاره واچول. په دغه کمپاين کې له افغانانو څخه وغوښتل شو ترڅو خپل اتلان خلکو ته وروپيژني. د دغه کمپاين په لړ کې لسګونه کسان د خلکو لخواه د اتلان په توګه معرفی شو.

د دغه کمپاين په پاى کې د يوه دقيقې پروسې په لړ کې 12 تر ټولو غوره اتلان وټاکل شول او د اروپايي ټولنې د 2016 کال په کليزه کې خپور شو. دغه کليزه په افغانستان کې د اروپايي ټولنې د ځانګړې استازې فرانز مايکل ميلبن لخواه نن په لاره واچول شو.

په افغانستان کې د اروپايي ټولنې ځانګړې استازې فرانز مايکل ميلبن وايی: " د افغانستان په شان يو هيواد کې چې ژوند پکې ستونزمند دي اړتيا ليدل کيږي ترڅو چې د ښه پيښو باندې هم پاملرنه وشي. په دغه هيواد کې د خلکو په شان ښې کيسې هم شتون لري. زه هره ورځ ډير داسې خلکو سره وينم چې د بدلون راوستلو لپاره هڅې کوي. دغه کليزه نه يوازې دغه 12 کسانو ته بلکه ټولو ميړنۍ افغانانو ته وړاندې کوو. "

"دغه 12 اتلان چې د خلکو لخوا ټاکل شوي دي په هغو برخو کې کار کوي چې اروپايي ټولنه په کې ليوالتيا لري. زه ډير خوشحاله يم چې خلک يوشمير ډيري ښځې د اتلانو په توګه پيژندلي دي. دا په ډاګه کوي چې ښځې څومره په افغانستان کې فعاله دي او د افغانانو لپاره د هغوي حقونه څومره اهميت لري. همدارنګه داسې اتلان هم پيژندل شوي دي چې د ماشومانو او ښوني په برخه کې کار کوي، هغه څه چې زمونږ زړه ته نږدې دي. "

اروپايي ټولنه به دغه کمپاين په راتلونکي کال کې هم تعقيب وکړي او د "افغان اتلانو" په اړه خبرې رواني وساتي.

د لا ډېر معلومات لپاره:

د اروپايي ټولنې پلاوی
د رسنيو سلاکار
عبدالله يادګاري
ټليفوني شمېره: 548 173 700 (0) 93+
بريښنالیک: abdullah.yadgare@eeas.europa.eu